# خلک به د قيامت په ورځ لوڅې پښې، بربنډ او ناسنته راپورته کړی شي

له عائشة بنت أبي بکر رضی الله عنها څخه روايت دی وايې چې : ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلې چې فرمايل يې: «خلک به د قيامت په ورځ لوڅې پښې، بربنډ او ناسنته راپورته کړی شي» ماوويل: اې د الله رسوله! ښځې او سړي به يو بل ته ګوري؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: اې عائشې! حالت به لدې ډېر سخت وي چې خلک يو بل ته وګوري«.
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د قيامت د ورځې ځينې حالتونه بيان کړل: او دا چې خلک به له قبرونو راپاڅول شي او د حساب لپاره به راټول کړی شي، په داسې حال کې چې پښې به يې لوڅې وي، او بربنډ به وي کالي به نه لري، او ناسنته به وي لکه مور چې زيږولی و، کله چې أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها دا خبره واورېده، نو په حيرانتيا سره يې وويل: اې د الله رسوله! آيا ښځې او سړي به ټول يو بل ته ګوري؟! نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته روښانه کړه چې د قيامت د راټولېدو حالت او له مرګه وروسته راپورته کېدل دومره سخت او وېروونکي دي چې خلک به دومره بوخت وي، چې د يو بل عيبونو ته د کتلو فرصت به نه لري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5460